# اجمل خټک د یو صحافي په حیث

هارون الرشید خټک



ځوک ئې لوئې سیاستدان بولي او ځوک ور ته د ادب په حواله لوئې مقام ورکوي او دا ځکه چې د دغه دواړه اړخونه ئې ښه مضبوط دي. او زیات شهرت ور ته هم په دغه حوالو حاصل دے. د سیاست او ادب دواړو اړخونو ئې دریم اړخ او حیثیت تت کړے دے دغه اړخ او حیثیت د هغوي د ,,صحافت،، دے. په صحافت ئې د خبرې نه مخکښې غواړم چې په ادب او سیاست ئې خبره مختصراً شان وشي. د خټک صېب بنیادي پېژندګلو د ادب ده او ادب ئې وړومبۍ حواله ګڼل پکار دي. هغه داسې چې کله د خټک عمر تقریباً دولس کاله ؤ. نو د دوي والد محترم حکمت خان وفات شو. او دوي پرې مرثیه اولیکله. دا د کال ۱۹۳۲ خبره ده. د دوي د والد محترم د وفات فقط دوه کاله شوي وو چې د نوښار ادبي جرګه له خوا د ستر خوشحال بابا دویمه مشاعره جوړه شوه. دغه مشاعره د دې طرحې چې :( دلته په ایرو کښې حلقه لعل د بدخشان وینم) لاندې کېده د ۲۰ اګست ۱۹۳۸ په دې مشاعره کښې د عبدالخالق خلیق، محمد نواز خان خټک، سمندر خان سمندر، امیر حمزه خان شینوارے،سید رسول رسا، غونډې شاعرانو ګډون کولو. اجمل خټک چې دغه وخت ئې عمر دیارلس کاله ؤ. د دغه مشاعرې شریک شاعر ؤ. په دغه طرحه داسې ګویا شو چې :

ځکه پرې راجمع د سرحد ټول شاعران وینم

یقیناً د دومره کم عمره هلک دپاره په طرحه کلام وئیل او طرحه پېژندل او بله دا چې په داسې مشاعره کښې د داسې مشرانو په مخکښې کلام



اے د زمـانې باره ځه په خپله لاره ځه
مه چېړه ما مه چېړه ځه ځه په قلاره ځه

غـونـدي شــاهـكــار او مــزاحمتي نظم اووئيـلو. په ۱۹۴۹ کښې پـه څـلريشت کـالـه عـمر کښې داسې نظم او په ۱۹۵۸ کښې پــه درې ديــرش کـلن عمـر کښې داسې مجموعه ,,د غيرت چغه،، مخې ته راتـلـل يـقيـنـاً چې ډېره لويه خبره ده. د ۱۹۳۴ نه تر ۲۰۱۰ په دغه درې اويا کلن سـفـر کښې هـغه پښتو ادب ته د شعر او نثر لويه پنګه پريښوده.

## سياسي سفر!

د ستـر او نـنګيـالـي خوشحال د سـنګــر او نـغــري د سور بڅـري بچي د سياست اغاز د ۱۹۴۲ نه شوے دے دغه وخت دوي د اتـم جـمـاعت امتحان پاس کړے او په پېښور په ګـورنـمـنټ سـينـيټـل هــائي سکول کښې د نهم جـمـاعـت طـالبـعلم ؤ. د انګريز سرکار په خلاف د ,, هـنـدوسـتــان پـرېږدئ،، تحـريک روان ؤ. دا اولس کلن ځلمے د آزادۍ په نعمت او د غلامۍ په لـعـنـت ډېـر ښــه پـوهېدو. نو صبر نـه شو او پـه تـحـريک کښې شــامـل شو. اخر د اوږد سيــاسي جـدوجهـد نـه پس انګريز هندوستان پرېښود. خو پښتـانـه د يـو عذاب نه په بل عذاب کښې ګرفتار شـول. پــه پښتـونخوا کښې د آزادۍ د مبـارزې مبـارزان پــه سـختــه کښې راګېر شول. او خټک وئيـل لـويــه خبـره وه. دغـه د هغوي د صلاحيت، جـرات اظهــار انـداز کېدے شي. د ۱۹۳۷ نـه چې خبره ۱۹۵۸ ته راورسېده نو هغه ,,د غېرت چغه،، نومې کتاب خالق شوے ؤ. او دا د غېرت هغه چغه وه چې مـحـلـونـه، پيـرخانې او د اقتدار مانۍ ئې اوجړقولې. د پښتـو د شاعرۍ رخ ئې بدل کړو.

خټک تا چې په پښتو کښې شاعري شروع کړه
يـو سرۀ لمبه دې راپېدا کړه د کلام په شفق

د شـعـري صـلاحيت انداز ئې د دې نه لګول پکار دي چې کـلـه پـه اتـمه مئ ۱۹۴۹ کښې هـم د ذکر شـوي نـوښـار ادبي جرګې له خوا د خوشحال بابا د مـزار مبارک د ګنبد افتتاح کېده نو د دغه موقعې په مناسبت سره په مشاعره کښې:

صبب په ۱۹۵۳ کښې په اول ځل د ,,پښتون لیګ،، د جوړولو په تور کښې ونیولے شو. بیا کله جیل کله بهر او ان دا چې د ۱۹۷۳ نه تر ۱۹۸۹ جلاوطني بیا په ۱۹۹۰ کښې د قامي اسمبلۍ او په ۱۹۹۳ کښې د سینټ ممبري د اے این پي صدارت ۱۹۹۰، په ۱۹۹۸ کښې د پونم چیزمیني، په ۲۰۰۰ کښې نیپ جوړول بیا په ۲۰۰۳ کښې دغه نیپ په اے این پي کښې ضم کړو او چې د اوږدې سیاسي مبارزې نه پس په ۲۰۰۸ کښې د بیمارۍ او ضعیفۍ په وجه د سیاست د مېدان نه بهر شو. نو دا وینا ئې وکړه چې :

بار د عمر را ته تن او بدن زوړ کړو
بې وسۍ مې هغه ګرم ژوندون سوړ کړو

پاکه خدایه چې دا څه لوبه را وشوه
زۀ د کټ شومه، وخت نوے مېدان جوړ کړو

او دغه شان د ۱۹۴۲ نه شروع شوے سفر شپېږ شپېته کاله پس تمام شو. په سیاست کښې د دومره اوږد او د لوئې مقام،شهرت باوجود،سپین او پاک سپیځلے پاتې شو.

### صحافتي سفر!

د دغه دوه سفرونو نه پس ئې د دریم اړخ مختصر جاج اخلو چې د ذکر شوي دوه سفرونو په مقابل کښې تت دے او د دې تتوالي وجه په ادب او سیاست کښې د هغوي فعاله کردار دے. د هغوي د صحافتي سفر اغاز د ۱۹۴۷ نه کېږي چې دغه وخت ئې عمر دویشت کاله ؤ. د درې میاشتنۍ مجلې ,,عدل،، د پښتو برخې مدیر مقرر شو. د دغه مجلې د اردو برخې مدیر پروفېسر محمد شفیع صابر ؤ. بیا په ۱۹۵۶ کښې د ,, ورځپانه انجام،، پېښور ایډیټر مقرر شو.

په دغه وخت کښې د دوي عمر یو دیرش کاله ؤ. بیا چې دغلته نه فارغ شو نو د مشهور سیاسي او ادب شخصیت ماسټر خان ګل (چې د مبتهاخیل کرک اوسېدونکے ؤ) د اخبار ,,بانګ حرم،، پېښور مدیر مقرر شو. دا د ۱۹۵۹ خبره ده. دغه وخت د خټک صبب عمر څلور دیرش کاله ؤ. په دغه اخبار کښې به خټک صبب د ,,ملنګ،، په فرضي نوم د ,,کچکول،، ترعنوان لاندې کالم لیکلو. په دغه کالمونو کښې به په روزمره مسئلو، او خصوصاً په پښتني مشاعره کښې چې کوم غلط رسمونه،رواجونه او ترهمات دي او د جهالت په سبب ئې د وبا شکل اختیار کړے دے باندې طنز کولو. او کوشش ئې دا کولو چې د خپل لیک په ذریعه پښتانه د دې عذاب څخه رابهر کړي او د دوي اصلاح وکړي. دغه کالمونو په دغه وخت کښې ډېر لوئې نوم پیدا کړے ؤ. او خلقو به په ډېره مینه او شوق کتل. په دغه عمر کښې دومره سنجیده او طنزیه لیکل د خټک صبب د اعلی زهانت،سنجیدګۍ،پوهې او جرات ثبوت ؤ. او د یو ځلمي په دومره ژور نظر خپلې معاشرې ته داسې کتنه سړے حېران کړي.

دغه کالمونه په ۱۹۲۰ کښې هغه وخت په کتابي شکل کښې په شاهین برقي پریس بابو حیدر روډ پېښور کښې چاپ او د منظور عام کتب خانه پېښور نه خواره شول چې کله د دغه اخبار ورومبۍ کلیزه نمانځلې کېدله. د کالمونو په دغه مجموعه کښې ټول څلور څلويښت کالمونه دي چې عنوانات ئې دا رنګ دي. ملنګ،پیاسه،زخن، روټۍ،ویښ اوده،شامتې،چې ملا دې دوست شي، د چا څه مشهور دي، ښکلې افیمي، اوبه ګرانې غوړي ارزان، نن په ما سبا په تا، عجیبه منطق، کوهې مه کنه د بل سړي په لار کښې،حلال کړې چرګ یم خو ګوتې مه راؤړه، ممبر که سوداګري؟ د شامتیانو شامتې، انجینئر،غلې ژوند،مشروټ، غل په غل،د افیمو خان، د اکبر باچا لټان، چائې، مېله که ټېله، ړوند څوک دې؟ ښه هم ښه بد هم ښه، د ژبې ګنهنګار، د فساد جرړه، غل پیکر د فقیر، تنخوا،برکتي،روستیه عقله، لیونې، نادیده، دا چینجې،درې ښارئې، دا ګټه، مونږ او عاشوره،روغ ډېر دي که ړانده، چیلم،حجره که جماعت،جماعت خانه،مرتدڅوک؟چې څنګه مخ هسې څپېړه،جماعت او مقبره،د شیدو سندا د دغه کالمونو یو خصوصیت دا دې چې د هر کالم اختتام نه پس به یوه ښائسته ټپه لیکلې شوه. په دې کتاب باندې د افغانستان مشهور لیکوال صدیق الله رشتین بورا او د ډاکټر زیور دین زیور مېرمن زرغونه رشتین ,,د کچکول لِساني،، ننې، تحقیقي او تنقیدي جائزه،، په عنوان د ماسکو پوهنتون نه د پي ایچ ډي ډګري اخستې ده.

دا کتاب په دویم ځل په ۲۰۰۹ کښې د یونیورسټي بک ایجنسي خېبربازار پېښور له خوا چاپ دې. خټک صېب په نولس سوه اته شپیتم (په دې کال د نیپ مرکزي جنرل سیکرټري هم منتخب شوې ؤ) کښې د ورځپاڼه ,,شهباز،، پېښور مدیر مقرر شوې ؤ. دغه مدیریت تر ۱۹۷۳ جاري ؤ. او د ,,پښتون،، مجلې د اداري عملې غړې هم پاتې دې.

که چرې خټک صېب لکه د ادب او سیاست،صحافت ته هم دغه شان وخت او توجه ورکړې وې نو نن به د صحافت د دنیا هم یو روښانه ستورې وې. او کله چې فیض احمد فیض وفات شو نو د کمیونسټ پارټۍ عالمي رسالې ,,لوټس،، د مدیریت پېشکش هم خټک صېب ته شوې ؤ. دا رساله به د بیروت لبنان نه شائع کېده په صحافت ئې د پوهې او تجربې دا غټ مثال دې.

☆☆☆